**مطبوعاتی خبرپاڼه**

## د افغان - ایران څلورم ګډ نندارتون په کابل ښار کې ترسره شو

نیټه: سه شنبه د ۱۳۹۵کال د وري ۱۶ مه، د سهار ۹ بجې او ۳۰ دقیقې (۹:۳۰)
پته:اروانوس هوټل، د هوایي ډګر ۸۰ متره سړک، کابل

د افغانستان او ایران ترمنځ څلورم ګډ نندارتون په کابل ښار کې جوړ شو. دغه نندارتون د ایران هېواد د نندارتونیزو پروژو د شرکت لخوا د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق او د ایران د سوداګرۍ د پراختیا سازمان په مرسته د روان کال د وري د میاشتې له ۱۲ تر ۱۵ مې نېټې پورې د کابل په اورانوس هوټل کې پرانیستل شو او د څلورو ورځو لپاره د سهار له ۹ بجو څخه د ماښام تر ۵ بجو پورې د ټولو پرمخ پرانیستی دی.

په دې نندارتون کې ۱۰ افغانی او۸۰ ایرانی شرکتونه د خوراکی توکو، ساختمانی توکو او بیخ بناو، تیل، د کور توکي، د ښکلا او روغتیایی توکي، طبي تجهیزات او درمل، موټرونه او اړوند صنایع، کانونه، صنعت، نساجي، غالۍ او موکت، کیمیاوي توکي، معلوماتی تکنالوژی، مخابرات او کمپیوتر، ښاري خدمتونه، سیلانی، بانکدارۍ او د کرهنې له سکتورونو څخه خپل محصولات او تولیدات ننداري ته وړاندې کړل.

په تېرو وروستیو څو کلونو کې د افغانستان او ایران ترمنځ د اقتصادي - سوداګرې بهیرتګلوري پرمختیایي بڼه درلودلې ده چې له کبله یې افغانستان د ایرانی تولیداتو او محصولاتو لپاره ښه مارکېټ شمېرل کېږي. د افغانستان او ایران ترمنځ د ګډې وسپنی پټلۍ په رامنځته کیدو سره به دا اړیکې نورې هم پیاوړی شي.

افغانستان د ګاونډیو هېوادونو د سوداګرو او پانګوالو د هرکلي لپاره تر بل هر وخت ډېر چمتو دی او له هر هغه ګام څخه چې ددې سیمې د هوسایني او سوکالي لپاره اوچت شي، په کلکه ملاتړ کوي. ایران کولای شي چې په دې برخه کې ډېر ښه رول ولوبوي.

د دغه راز نندارتونو په لاره اچول د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو د پراختیا او د سوداګرۍ د کچې د لوړېدو لپاره د دواړو هېوادونو د سوداګرو او پانګوالو د لېوالتیا ښکارندويي کوي او ددغو اړیکو د پیاوړي کېدو لپاره به ډېر ګټور پرېیوځي.

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق د افغان - ایران دریېم ګډ نندارتون جوړېدل د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا لپاره ګټور ګام بولي او هیله مند دی چې دغه اړیکې به د هرې ورځې په تېرېدو سره لا هم پیاوړي شي.

د یادولو وړ ده چې د دوو هېوادونو لومړنی ګډ نندارتون د ۱۳۹۱ کال د وری د میاشتی له ۸ - ۱۰ نېټې پورې، دوهم ګډ نندارتون د ۱۳۹۳ کال د سلواغي له ۲۸ د کب تر لومړی نېټې پورې او دواړو هیوادونو ترمنځ دریم ګډ نندارتون د ۱۳۹۴ کال د کب په ۱۲ نیټه په همدې ځای کې ترسره شوي وه چې په اوسط ډول په ورځ کې ۱۲۵۰۰ کسه پکې برخه اخیستې وه.